نعمان دوست

۲۰۲/۰۹/۲۵

# ماښامی مجلس

# (۵)

**د افغان جرمن پورتال درنو لوستونکو!**

**له څه مودې راپه دېخوا د درانه لیکوال محمد نعمان دوست د «ماښامی مجلس» د لیکنو لړی په افغان جرمن پورتال کې پیل شوې ده؛ څنګه چې د دې لړی شپږ لومړی برخې له خپرېدو نه پاتې وې او د پورتال اداري اوس ترلاسه کړې دي، نو دا شپږ برخې به له نن نه وروسته د نورو ورځنیو برخو په څنګ کې خپرېږي.**

(د افغان جرمن پورتال اداره)

ملګرو!

ماښامی میلمه راسره را له لمانځه ګډ راغی. د مجلس د دوام په اړه چې یې د مثبتو نظریاتو پله درنه ولیده، نو بریتو کې موسکی شو او مجلس ته مو غاړې صافې کړې:

ما ویل: انديوال لړ خپه ښکارې، خیریت خو به وي؟

ویل: پلار به مې هم خپه وي، دا ځووم ځل دی چې خپل معاش پسې بانک ته ځم، تیلي تمبي وي.بې عزته او خالي لاس راستون شم.دعوې یې ګوره ځومره غټې دي خو دوه اونیو کې یې جوړ بانکونه خلاص نشو کړای.ستا دیره دې اباده وي، شین چای خو یکې پیدا کیږي.

ما ویل ښه، ښه. فکر مې کاوه کابل ته د هغه میلمه راتګ غوسه کړی یې.

ترخه موسکا یې وکړه او بیا یې ویل: ستاسو ( اشرارو) له برکته دې نابللو میلمنو سره بلد شوي یوو.

ما ویل کمونسته! د میلمستیا لحاظ دې کوم کنه... که تاسې لینن پرسته نه وای، موږ به ولې...

له چايېره یې پخپله پیاله ډکه کړه او بیا یې ویل:

ګوره، بې حافظې ملګریه! په شرافت قسم، تاسې شکر وکاړئ چې له پخوا ښه شوي يئ، لړ افغاني احساس مو پیدا کړی.

ما ویل هغه څنګه؟

موبایل یې راوویست، د یو اردو اخبار سکرین شاټ یې را وښود،

دا د (روزنامه جنګ را ولپنډۍ) د ۱۹۹۲ کال د جون د ۲۷ مې نیټې، سرلیک و. دا وخت استاد رباني زموږ د وطن پر حکومت تازه را نازل شوی و .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په خندا یي ویل: ته دا اردو جمله ووایه، خبر یم چي لس- یوولس کاله تا هم دال خوړلي په اردو به پوهېږې.
ما ویل دال خو بیا هم بنه دي، خدای خبر تاسو به د غوښي د کانسروا په نوم څومره ګرمي ګرمي روسی چونګښي خوړلي وي .

له دې سره یې برچ وهل او د خولي چای یې آن کړکۍ ته راځېدلي پرده لمده کړه.

ویل یې جمله وایه او مانا یې کړه .

لیکل شوي و:

حمید گل کو افغان اسلامی حکومت کا مشیر بننے کی پیشکش!

حیران شوم، ما ویل: نو دې بدبختو خو شل کاله د پاکستان ضد نقاب پر مخ خپور کړی و او په همدې یې امتیازات اخیستل.

ویل یې: دا ستاسو د اشرارو د مشرانو پردي پالنه وه، ټول عمر په دوه ګوتو پردي ډول ته ونځیدئ.

ما ویل کینه، دا سرچپه یوو (U) غوندې بریتونه دي کل شه، هغه ستاسو جیره خوارو مشرانو چي پر لینن درود وایه، هغه ستاسو ببرک چي به ویل: اتکای ما به جماهیر بزرگ شوروی است!

هغه تاسو چي شوروي ساز ته برګ اتنوڼه کول او...

سترګي یې تیتي کړې او ورو یې ویل: ماضي د تاریخ برخه ده، پرېږده یې.

ما ویل: اصلي خبره پاتي شوه، د هغه میلمه په راتګ څه ووایه.

ویل یې: د خربوزو او منو وخت دی، دالو یې کولمي خوړیني کړي، د خولي مزه به جوړوي.

ما ویل: اصلي کیسه وکړه، ځان مه تېروه.

آه یې وویست، ویل یې: دیرش کاله شول چي وطن مو بې سرپوښه کړ، اوس دیګ ته د هر ډول خځندو د راتلو امکان شته.

ما ویل ۳۰ نه بلکي ۴۳ کاله شول. د تاریخ له قضاوت تاسو هم معاف نه یئ. داود خان مو په باثباته شاهي نظام کودتاه ته تشویق کړ. په رګ رګ کي یې ور ننوتلئ. خپل فکري مخالفان مو وځپل، هاشم میوندوال غوندې شخص مو د کودتاه د توطیي په تور شهید کړ. قلعه زمانخان کي ستاسو په لاس د وژل شویو هیوادوالو ۵۰۰ جسدونه ، له یوه کوره په داسي حال کي پیدا شول چي داودخان بېچاره لا خبر هم نه و. بیا مو په همدې داود سره کودتاه وکړه او بالاخره هیواد مو سور مخو ته حواله کړ. دا کوم اور کي چي سوزو اصلي پلته ورته تاسي وهلي او...

سترګي یې راپورته کړې: یعني که یو څوک بد وکړي، نور باید ورته دوام ورکړي؟ موږ قتلونه وکړل خو مجهزه او د سیمي په کچه پیاوړې اردو مو هم جوړه کړه. تاسو هم قتلونه وکړل او هم مو مجهزه اردو کباړ کړه. آن کارخاني مو لوټه لوټه او کباړ کړې.

ما ویل: اردو مو په یوه غټ قیمت جوړه کړه، ټول وطن مو شوروي ته حواله کړ.

په کړس کړس یې وخندل: قهرمانانو! تاسو خو آن پنځوسو ته حواله کړ او اوس دا دی د لاش خورو نوبت دی.
پیالي ته یې وکتل: تریخ چای ته دې ګوره او دومره پیغورونو ته دې ګوره. پرېږده دا خبرې موږ او تاسو خو لړلي، ګوندې دا نوي عبرت واخلي.او موږ تاسو غوندې د خلکو د خندا نشي.
پاځه، چای تازه کړه.
چایبر په لاس خپلي خوني ته لاړم، خو راته وویل شول چي وچ چای نشته، هلک مي ورپسي لیږلی و، خو دوکاندار ویلي و چي نور چاته د یوي افغانۍ قرض سودا هم نشي ورکولای.
له جوش اوبو سره راستون شوم او د چای په اضرارو مي بحث شروع کړ. میلمه غلی و، لکه چي زموږ خبرې یې اوریدلي وې .

ویل یې : حکیم صیب په اجازه دې، نور به لاړ شم . یوه شیبه به په لاره د دې برکتي بدلون له هوا ګټه واخلم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ